هغه څوک له مور څخه نه دی چې مخونه وهي، ګريوانونه څيري کوي او د جاهليت په (الفاظو) خپراوې کوي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "هغه څوک له مور څخه نه دی چې مخونه وهي، ګريوانونه څيري کوي او د جاهليت په (الفاظو) خپراوې کوي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د جاهليت د زمانې د خلکو له ځينو کړنو څخه منع فرمايلې او پدې وينا سره يې خبرداری ورکړی چې: هغه زمور څخه نه دی: لومړی: څوک چې غومبري وهي، او غومبری يې ځکه ياد کړ چې غالبا همدا ځای وهل کيږي، کنه د ټول مخ له وهلو منع راغلې ده. او دويم: ګريوان څيري کوي، ګريوان هغه ځای دی چې په جامه کې د سر ننويستلو لپاره پرېښودل کيږي، دا کار د زياتې بې صبرۍ له امله کوي. او دريم: د جاهليت د زمانې په الفاظو غږ پورته کول لکه د تعصب په پلمه د پلرونو او نيکونو يادول، يا د هلاکت او تباهۍ خپرا غوښتل او يا زړه بوګنوونکي خاطرې رايادول او يا په مړي ستاينې کول او د هغه مېړانې او محاسن يادول او داسې نور..

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5380